# کاونټرپارټ

COUNTERPART

د کاونټرپارټ انټرنشنل-افغانستان خبرپاڼه

د افغان مدني ټولنې د پیاوړتیا نوښت (آیپکس)

ګڼه: ٦ مرغومی۱۳۸٦ -ډسمبر۲۰۰۷


## د کاونټرپارټ د مشرتابه هیئت غړو او د عمومي مشر مرستیالې له افغانستان څخه لیدنه وکړه

د نومبر په لومړیو کې د کاونټرپارټ نړیوالې مؤسسې د مشرتابه هیئت رئیس ښاغلي رابرټ جي رینولډز، د نړیوالې سلا مشورې د کمېټې غړی فریډ برامباغ او د عمومي مشر مرستیالې آغلې آرلین لیبر د افغانستان په سفر راغلي وو. ددغه درې ورځني سفر پر مهال دغو درنو مېلمنو ته د آیپکس پروګرام په اړه عمومي معلومات وړاندې شول او همدا راز ددې فرصت یې پیدا کړ چې په افغانستان کې د امریکا د متحده ایالتونو د نړیوالې پرمختیایي ادارې (یو ایس ایډ)، ډېر شمېر وزارتونو او د شریکباڼو ټولنو څخه هم لیدنه وکړي.

زموږ درنو مېلمنو د افغانستان د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت له وزیر ښاغلي محمد احسان ضیا سره د ملاقات پر مهال د کاونټرپارټ نړیوالې مؤسسې د پروګرام د اوسمهالو او راتلونکو فعالیتونو، په افغانستان کې د یوې متحرکې مدني ټولنې د پراختیا او دا چې مختلف ذیدخله اړخونه د مدني ټولنې په پرمختګ کې څه نقش لري، او همدا راز د افغانستان په ټولنیز او اقتصادي پرمختګ کې کاونټرپارټ څه ونډه لرلی شي، د موضوعاتو په اړه بحثونه وکړل. د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د افغانستان د اساسي قانون ۴۰۰۰۰ ټوکه کتابونه د ۴۰۰۰۰ تشریحي پوسټرونو سره یو ځای ۲۴۰۰۰ ټولنیزو پرمختیایي شوراګانو(CDCs) ته او همدا راز مختلفو وزارتونو او دولتي ادارو ته د ټول هېواد په کچه وېشلي دي. د اساسي قانون کتابونه چې پښتی یې له کلک کاغذ څخه جوړې شوې وې او پوسټرونه د کاونټرپارټ نړیوالې ټولنې له خوا د کلیو د پراختیا وزارت له پاره چاپ شوي وو.

پر دې سربېره د بهرنیو چارو په وزارت کې د بشري حقونو او د ښځو د نړیوالو چارو رئیسې آغلې زهرا راسخ ښاغلو مېلمنو ته د افغانستان د دولتي چارو په اړه کره او سوچه عمومي معلومات وړاندې کړل. آغلې راسخ او کاونټرپارټ نړیواله مؤسسه د هغو هلو ځلو سرلاري باله شي چې د بشري حقونو په اړه چې افغانستان په رسمیت پېژندلي او لاسلیک کړي یې دي د رپوټ ورکولو او څارنې په بهیر کې د مدني ټولنې مؤسسې ور ګډې کړي.



*د کاونټرپارټ د مشرتابه هیئت غړي، عمومي مشر مرستیال او د آیپکس مرستیال مشر د افغانستان د کلیو د بیا رغونې او پراختیا له وزیر ښاغلي احسان ضیا سره د ملاقات پر مهال– کابل*

## سهیلي افریقا ته علمي سیر له دولت او د نادولتي مؤسسو سره د تجربو د شریکولو مرسته وکړه

د په ګټه نه ولاړ قانون له پاره نړیوال مرکز (ICNL) او کاونټرپارټ نړیوالې مؤسسې د اقتصاد وزارت د ٦ تنو او د افغانانو له پاره د مرستو د انسجام د ادارې (اکبر)، او د افغاني غیر دولتي مؤسسو د پیوستون ادارې (اې این سي بي) او د افغاني ښځو د شبکې (اې ډبلیو این) مؤسسو څخه د ۳ تنو کارمندانو له پاره د سهیلي افریقا د علمي سیر انتظام کړی ؤ. ددغه علمي سیر هدف دا ؤ چې په سهیلي افریقا کې د نادولتي ټولنو د قانون تطبیق له نږدې وګوري، ستونزې او مسایل یې په نخښه کړي او دا چې ددغه سفر کوونکو د ظرفیت کچه لوړه او تجربه یې زیاته شي.

سهیلي افریقا د دوو دلیلونو له مخې ددغه سفر له پاره انتخاب شوې وه: ۱) دا چې دغه هېواد په عمومي کچه آزاد، کاري قانوني چاپېریال را منځته کړی، چې په دې توګه به د افغانانو له پاره د یوې نمونې په بڼه ګټور وي. ۲) د یوه انتقالي هېواد په توګه سهیلي افریقا هم د افغانستان په څېر له یو لړ زیاتو قانوني مسایلو سره لاس او ګریوان دی. (پاتې په دریېم مخ کې)



*افغان پلاوی چې د کاونټرپارټ او د په ګټه نه ولاړ قانون له پاره نړیوال مرکز له خوا پــه علمي سیر سهیلي افریقا ته تللی و*

## د شریکباڼو ټولنو له خوا د بلا عوضه مرستو ورکول: د ظرفیتونو لوړول او د ټولنو لاسنیوی

د آیپکس د شریکباڼو ټولنو (د مدني ټولنې د ملاتړ د ارتباطي مؤسسو (ISOs) او د مدني ټولنې د ملاتړ د مرکزونو (CSSCs) له خوا د بلاعوضه مالي مرستو ورکول د کاونټرپارټ د اوږدمهاله پلانونو یوه کلیدي برخه ده، چې د شریکباڼو ټولنو ظرفیتونه لوړ کړي، داسې چې د منابعو د اغېزمنو او پایښتیزه مرکزونو په حیث پاته شي او د کاونټرپارټ د بلاعوضه مرستو د پرګرام لاسرسی نور هم پراخ کړي. د آیپکس هر یوه سیمه ییزه شریکباڼې مؤسسه د مدني ټولنې ۲۰ په نخښه شوو ولسي مؤسسو ته چې دودیزې جرګې، د ټولنې د پرمختیا شوراګانې، نادولتي مؤسسې، او نورې ټولنې دي، د ظرفیتونو د لوړولو د ټریننګونو او د تخنیکي مرستو د برابرولو مسؤولیت لري. د مدني ټولنې دغه په نخښه شوې مؤسسې په طبیعي توګه د دویم ځلي فعالیتونو له پاره د شریکباڼو ټولنو له خوا تمویلیږي، داسې چې د مدني ټولنې د ملاتړ ارتباطي مؤسسې او د مدني ټولنې د ملاتړ مرکزونه وړاندې له دغو په نخښه شوو مؤسسو سره د ظرفیتونو د لوړولو په اړه اړیکې لري او تخنیکي خدمتونه ورته برابروي. په کال ۲۰۰٦م کې، کاونټرپارټ نړیوالې مؤسسې د دویم ځلي بلاعوضه مرستو د ورکولو بهیر وروسته له هغه چې د شریکباڼو ټولنو مالي، د بلاعوضه مرستو، او د پروژو د ادارې او ظرفیت ارزونه یې ترسره کړه پیل کړ. (پاتې په دریم مخ کې)

## سرلیکنه

د آیپکس شپږمې خبرپاڼې ته ښه راغلاست. آیپکس په بریالیتوب سره خپل دریم کال بشپړ کړ، او د امریکا د متحده ایالتونو نړیوالې پرمختیایي ادارې (یو ایس ایډ) کاونټرپارټ ته ددغه پروګرام درې کاله نورهم تمدید کړ. دغه هلې ځلې چې د پروګرام په تطبیقولو کې د ټول کاري ټیم له خوا ترسره شوي دي، په افغانستان کې د کاونټرپارټ د پیژندنې ډېرې په زړه پورې او ارزښتناکې دي.

د تېرو دریو کلونو پرمهال، کاونټرپارټ په بشپړه توګه خپلو هدفونو ته رسېدلی او یا یې هم پښه ترې اړولې ده. د مدني ټولنې د سکتور یوه ارزونه ترسره شوه او ددغې ارزونې لاسته راوړنې یې د یوه عمومي مجلس او د ۱۲ ګردیو مېزونو او د بحثونو له مجلسونو سره شریکې کړې. د ارزونې او د ګردیو مېزونو لاسته راوړنې په راتلونکو کلونو کې د آیپکس پروګرام د تطبیق له پاره لارښوونکې وې او د دولتي او غیر دولتي سکتورونو پرېکړه کوونکو لوریو ته یې د ارزښتناکو سرچینو حیثیت درلود چې په ټولیزه توګه د ټول افغانستان د پراختیا او په ځانګړې توګه د مدني ټولنې د سکتور په اړه یې مهمې پرېکړې وکړې. د په ګټه نه ولاړ قانون له پاره نړیوال مرکز ,(ICNL)چې زموږ شریکباڼې ټولنه ده، د هېواد د اقتصاد له وزارت او د نورو دولتي ادارو او د مرستندویه ټولنو سره یې کار وکړ چې د نادولتي مؤسسو قانون له سره وګوري او اصلاحات په کې راولي، او همدا راز تخنیکي مرستې یې په دې لړ کې د اقتصاد وزارت رسمي مامورینواو د مدني ټولنې مؤسسو ته په ملي او ولایتي کچه ورکړې. همدا راز کاونټرپارټ لس شریکباڼې ټولنې هم انتخاب کړې چې د پروګرام په تطبیقولو کې مرسته وکړي: چې دوه ټولنې یې د مدني ټولنې د ملاتړ ارتباطي مؤسسې (ISOs)دي چې مرکز یې په کابل کې دی او اته نورې مؤسسې یې د مدني ټولنې د ملاتړ مرکزونه (CSSCs)دي چې د ټول افغانستان په کچه مختلفو ولایتونو موقعیت لري.

د مؤسساتي ملاتړ د بلاعوضه مرستو او د ټریننګ او تخنیکي مرستو له لارې، زموږ ۱۰ شریکباڼې مؤسسې اوسمهال د ټول هېواد په کچه ۲۰۵ د مدني ټولنې افغان مؤسسو ته ټریننګونه او تخنیکي مرستې ورکوي. پر دې سربېره، د کاونټرپارټ د بلاعوضه مرستو پروګرام د ظرفیتونو د لوړولو له پروګرام سره غبرګ، د مدني ټولنې مؤسسو ته د اړتیا وړ مالي سرچینې برابرې کړي دي چې د ټولنې د پرمختګ او مدافعې پروژې وړاندې تطبیق کړي. د بلا عوضه مرستو ٪۵۵ د افغان مدني ټولنې هغو مؤسسو ته چې د ښځو له خوا رهبري کېږي او یا هم پروګرامونه یې د ښځو له پاره وي ورکړل شوي دي.

د آیپکس پر څلورو اساسي مقصدونو ور سربېره، ټولنیز جنسیت او رسنۍ هغه دوه پرګرامونه دي چې د آیپکس په ټولو فعالیتونو کې شامل دي. د کاونټرپارټ د ټولنیز جنسیت ټیم ، د ټولنیز جنسیت تعادل زموږ د بشري قوا او د بلاعوضه مرستو په پالیسیو او تګلارو کې ور شامل کړی دی. د ټریننګ ټول مواد یې د ټولنیز جنسیت له مخې حساس ګرځولي او د ټولنیز جنسیت په اړه یې له همکارانو، شریکباڼو ټولنو، د مدني ټولنې له مؤسسو او د دولتي ادارو سره مهم بحثونه او فعالیتونه ترسره کړي دي.

نړیوال نوښتګر ملګري (Creative) ټولنه چې زموږ شریکباڼې ده، رسنیو ته په پراخه کچه د رسېدو یوه ستراتیژي یې را منځته کړه، چې په دې توګه یې زموږ هڅې منسجمې کړې چې د افغانستان ډېرو لرې پرتو سیمو ته یې د مدني ټولنې کلمه ورسوله. همدا راز د نړیوالو نوښتګرو ملګرو ټولنې زموږ د شریکباڼو ټولنو، او د رسنیو د مؤسسو سره کار وکړ چې د ظرفیتونو کچې یې لوړې او د مدني ټولنې په اړوندو فعالیتونو او پېښو په اړه رپوټونه وړاندې کړي، او دا چې د رسنیو د مؤسسو، د مدني ټولنې د مؤسسو او د دولت تر منځ یې اړیکې ټینګې کړې، چې په دې توګه یې ددوی مؤسساتي مقصدونه غښتلي کړل.

غواړو په دې توګه د امریکا د متحده ایالتونو د نړیوالې پرمختیایي ادارې (یو ایس ایډ) څخه مننه وکړو چې په دوامداره توګه یې زموږ ملاتړ وکړ او دا چې له سیمه ییزو حالاتو سره سم خپل موډل په کار واچوو په دې اړه یې له نرمۍ کار واخیست. د کاونټرپارټ له مرکزي دفتره متواترو مرستو موږ ددې وړ وګرځولو چې د نورو هېوادونو او پروګرامونو څخه مهم زده شوي درسونه په خپل پروګرام کې را ونغاړو، چې په دې اړه موږ د زړه له کومې خوښ یو. په پای کې په افغانستان کې د کاونټرپارټ او د شریکباڼو ټولنو له هر یوه کارمند څخه د زړه تله مننه کوو. په افغانستان کې د مدني ټولنې د پیاوړتیا په هلو ځلو کې زموږ ټولې بریاوې ددوی له نه ایلېدونکو او کره ژمنو له مخې ترلاسه شوې.

ټولو ته خوشحاله او آرام ۲۰۰۸م کال غواړو.

## ځواکمنې شوې ښځې د خپلو کورنیو سره مرسته کوي

د ۲۰۰۷م په جولای کې کاونټرپارټ په بدخشان ولایت کې د بدخشان ولایت د داوطلبو ښځو مؤسسې (BVWA) ته ۹۲۵۷۵ امریکایي ډالره بلاعوضه مرسته ډالۍ کړه، چې د نوموړي ولایت د جرم ولسوالۍ د پنځو کلیو مستحقې او له ناوړه حالاتو سره لاس او ګرېوان ښځې د معیشت، روغتیا او د لیک لوست د منظمو فعالیتونو له لارې ددوی د ژوند د کیفیت د ښه کولو په مخه ځواکمنې کړي.

د کاونټرپارټ د بلاعوضه مرستو په مټ د بدخشان ولایت د داوطلبو ښځو مؤسسې ۱۲۵ کورنیو ته په دغه ولایت کې د شاتو د مچیو د ساتنې ټریننګونه او همدا راز د مچیو بکسونه ورکړل. دغو ټریننګونو دوی وتوانولې چې د شاتو مچۍ ښې وساتي او د شاتو غوره حاصل ورځنې واخلي، چې په دې توګه ددوی د کورنیود عایداتو له پاره دا یوه غوره منبع وګرځېدله. د بدخشان د داوطلبو ښځو مؤسسه په دغه ولایت کې همدا راز د لیک لوست او روغتیا پوهنې په برخه کې هم ۲۵۰ تنو ښځو ته ټریننګ ورکوي.



*نازیه هره ورځ د خپلو مچیو صندوکونه ګوري چې په دې خبره ځان ډاډه کړي چې د شاتو د تولید له پاره یې قالبونه پاک او سوتره دي.*

د جرم ولسوالۍ د قلعه ګنبد کلي اوسېدونکې نازیه چې ۳۰ کاله عمر لري تر ټولو لومړنۍ ښځه وه چې ددغه پروګرام له پاره یې په داوطلبانه توګه کار پیل کړ، په لومړي سر کې ددغې سیمې د دود له مخې ښځو ته اجازه نه وه چې له کوره بهر کار وکړي. چې په پای کې د بدخشان د دواطلبو ښځو مؤسسې ډېر وخت ولګاوه چې د خلکو زړونه په لاس راوړي او دغه پروګرام ورته تشریح کړي او د خلکو اعتماد او باور ترلاسه کړي، چې له ډېرو هلو ځلو وروسته ښځو ته اجازه ورکړل شوه چې په دغه پروګرام کې کار وکړي. نازیه وایي چې د بدخشان د داوطلبو ښځو د مؤسسې له خوا ټریننګونه او د شاتو د مچیو ساتل یو طلایي فرصت وو، چې ماته برابره شوه، او دا چې زه به خپلې د شاتو مچۍ داسې ساتم لکه خپل ماشومان مې، دا ځکه چې همدې مچیو زما او زما د کورنۍ د تغذیې او د مالي ملاتړ زمینه برابره کړې ده. د پروګرام له مخې، نوموړې ژمنه کوي چې د خپلو مچیو راتلونکې نسل به نورو ښځو ته ورکوي. نوموړې په دې هکله وایي: "غواړم له خپلو کلیوالو ښځو سره داسې مرسته وکړم لکه له ما سره چې مرسته وشوه چې دوی هم په خپلو پښو ودرېږي."

### د څارنې او ارزونې ټیم د جیوبېس سیسټم په اړه تخنیکي مرستې ورکړې

د کاونټرپارټ د پروګرام مخکښ ټیم/ د معلوماتو د اداري سیسټم (ایم آی ایس) معاون د مدني ټولنې ۹۸ مؤسسو ته چې د آیپکس د بلاعوضه مرستو د پروګرام څخه یې مالي مرستې ترلاسه کړې دي، د جیوبېس سیسټم په وسیله د رپوټ ورکولو په هکله تخنیکي مرستې ورکړې دي. د مدني ټولنې مؤسسې د ریپوټ د تخنیکي طبیعت او جوړښت له مخې له ستونزو سره مخ وې. خو سره له دې، د څارنې او ارزونې د څانګې له خوا د متواترو تخنیکي مرستو له امله، ټولې مؤسسې په دې وتوانېدلې چې خپل خپل د جیوبېس ریپوټونه وړاندې کړي.

## ژوندی کیسه

## د آیپکس د ظرفیتونو د لوړولو پروګرام د داسې پایښتیزه زیربنا د را منځته کولو هلې ځلې کوي چې د ټول افغانستان په کچه د مدني ټولنې د مؤسسو د پراختیا لامل وګرځي.



د HEARO مؤسسې رئیس قاري ضیا په جلال آباد کې د آیپکس ټیم ته د خپلې مؤسسې تولیدات ښیي.

مؤسساتي محدود ظرفیتونه د مدني ټولنې د وړو مؤسسو له پاره ستونزمنوي چې د مرستندویو ټولنو مرستې ترلاسه کړي. زیاتره وړې مؤسسې د نورو لویو او پراخو مؤسسو سره د رقابت له مخې له ستونزو سره لاس او ګرېوان دي.

د هېواد د زراعت او بیا رغونې ښوونیزه مؤسسه (HEARO)د ۲۰۰۵م کال په مارچ کې په ننګرهار کې د یو شمېر لېوالو افرادو د ډلې له خوا په دې هیله جوړه شوه چې پرمختیایي چارې د ټولنې د خلکو په ګډون ترسره کړي.

د هېواد د زراعت او بیا رغونې د ښوونیزې مؤسسې د لرلید او فعالیت له مخې، د افغان مدني ټولنې د پیاوړتیا نوښت (آیپکس) چې د امریکا د متحده ایالتونو د نړیوالې پرمختیایي ادارې (یو ایس ایډ) په مالي مرسته د کاونټرپارټ نړیوالې مؤسسې له خوا دغه پروګرام تطبیقېږي، له خوا د مدني ټولنې په نښه شوې مؤسسه انتخاب شوه. د آیپکس عمومي هدف دا دی چې د افغان مدني ټولنې د مؤسسو د ظرفیتونو د لوړولو له لارې د مدني ټولنې نقش او پایښت ته وده ورکړي. په عامه توګه د آیپکس له خوا دغه هدف ته رسېدل په دې مانا دي چې د خپلو لسو شریکبانو ټولنو (د مدني د ملاتړ ارتباطي مؤسسې ISOs او د مدني ټولنې د ملاتړ مرکزونه ( CSSCsظرفیتونه په داسې بڼه لوړ کړي چې یوه پایښتیزه زیربنا هم ورسره را منځته کړي، چې په دې توګه بیا د ټول افغانستان په کچه د مدني ټولنې د مؤسسو په پرمختګ کې مرسته وکړي. د کاونټرپارټ دوه شریکبانې ټولنې ISOsد مدني ټولنې د ملاتړ اتو مرکزونو ته چې د افغانستان په مختلفو برخو کې موقعیت لري د ظرفیتونو د لوړولو پرمختللې مرستې کوي. د کاونټرپارټ د مدني ټولنې د ملاتړ د منځنۍ مؤسسو او د مدني ټولنې د ملاتړ د مرکزونو د مربیانو ټولۍ د مدني ټولنې ۲۰۵ ولسي مؤسسو ته په مستقیمه توګه ټریننګونه ورکوي، چې د شریکبانو هره یوه مؤسسه د مدني ټولنې د شلو مؤسسو د ټریننګ ورکولو مسؤولیت لري.

د هېواد د زراعت او بیا رغونې ښوونیزه مؤسسه (HEARO)پخوا تر دې چې د آیپکس له خوا په نښه شي، د پروژو ډېر شمېر پروپوزلونه یې ډېر شمېر مرستندویو ټولنو ته ولېږل، خو په دې بریالۍ نه شوه چې ددغو پروژو له پاره مالي مرستې ترلاسه کړي، دا ځکه چې دوی د ټولنې د اړتیاوو په ارزونه او د پروژو د ډیزاین او د پروپوزل په لیکلو کې په کافي اندازه پوهه او مهارتونه نه درلودل. وروسته له دې چې د آیپکس له خوا دغه مؤسسه د مدني ټولنې په نښه شوې مؤسسه انتخاب شوه، کارکوونکو یې د آیپکس په ډېر شمېر ټریننګونو لکه د ټولنې د حق پېژندنې ارزونه، او د ټولنې د ستونزو د هوارولو پلان، د پروژو ډیزان او د پروپوزل لیکلو په ټریننګونو کې یې برخه واخیسته. دغو ټریننګونو له HEAROمؤسسې سره د داسې تخنیکونو د زده کړې مرسته وکړه چې د ټولنې مختلف شمېر غړي په یوه غولي ددې له پاره را ټول کړي چې ستونزې معلومې کړي، د لومړیتوبونو له مخې یې درجه بندي کړي او بیا یې د هواري لارې چار وګوري. او همدا راز ددغو اړتیاوو د پوره کولو له پاره د پروژې پروپوزلونه طرحه کړي.

ددغو ټریننګونو څخه وروسته، د لومړي ځل له پاره HEAROمؤسسې د ټولنې د ستونزو د هوارولو تمرین وکړ، چې د ټولنې ستونزې په نخښه کړي او بیا یې د لومړیتوبونو له مخې درجه بندي کړي. د HEAROمؤسسې کارمندانو ددغو ورکشاپونو له پایلو څخه کار واخیست او د پروژو ډېر شمېر پروپوزلونه یې طرح کړل، چې په پای کې یې د ۱۲ پروژو له پاره مالي مرستې د ملګرو ملتونو او نورو مرستندویو ټولنو څخه ترلاسه کړې. د نومورې مؤسسې په فعالیتونو کې ۵۰ ښځو ته د بستر د روجایۍ د اوبدلو ټریننګ، له سېل څخه د کلي د خوندي ساتلو د دېوال رغول، د ۱۲ ښوونځیو او د ۲ روغتونونو د ودانیو رغول شامل دي. ددغو ټریننګونو له مخې د HEAROمؤسسې د پوهې او مهارتونو کچه لوړه شوه چې په نتیجه کې یې نوموړې مؤسسه د افغانستان په ډېرو سیمو کې اساسي خدمتونه ترسره کوي، او همدا راز د نوموړې مؤسسې پایښت هم تضمینوي.

د آیپکس ټریننګونو له HEARO مؤسسې سره د داسې تخنیکونو د زده کړې مرسته وکړه چې د ټولنې مختلف شمېر غړي په یوه غولي ددې له پاره را ټول کړي چې ستونزې معلومې کړي، د لومړیتوبونو له مخې یې درجه بندي کړي او بیا یې د هواري لارې چارې وګوري. او همدا راز ددغو اړتیاوو د پوره کولو له پاره د پروژې پروپوزلونه طرحه کړي.